# کوویډ – 19 سره د ملي مبارزې وضعیت
# افغان حکومت ته د پالیسی په برخه کې سپارښتنې

## د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

**پالیسي پاڼه**

ټیم لیډر: امان الله تاند
غړي: ډاکټرسید خالد راشد او ډاکټر وحیدالله مصلح
بیاکتنه: نصیر احمد نویدي

۱۵ جوزا ۱۳۹۹ هـ ش / 04 June 2020

ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

# کوویډ – 19 سره د ملي مبارزې وضعیت

# افغان حکومت ته د پالیسۍ په برخه کې سپارښتنې

افغانستان د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر کرونا وایروس په ټولنیزو، اقتصادي، او روغتیایي برخو کې زیات اغېزمن کړی دی.

د لومړي ځل لپاره د عامې روغتیا پخواني وزیر فیروز الدین فیروز د ۱۳۹۹ل کال حوت په ۵ نېټه هرات ولایت کې په کرونا وایروس د لومړني کس د اخته کېدو خبر ورکړ. دا په داسې حال کې چې د مارچ په ۱۱مه نېټه د روغتیا نړیوال سازمان لخوا کرونا وایروس وبا وبلل شوه[1] او په ګاونډي هېواد ایران کې د وایروس خپرېدو څپې اوج ته رسېدلې وې.

د کډوالو نړیوالې ادارې راپور پر بنسټ د روان ۲۰۲۰م کال جنورۍ لومړۍ نېټې څخه ترمۍ میاشتې پورې ۲۷۱ زره افغانان له ایران او پاکستان څخه افغانستان ته راستانه شوي دي[2] د ایران سره پوله که څه هم پرانېستې ده، خو د پاکستان سره پوله د اپریل په میاشت کې د څلورو ورځو لپاره او همدارنګه د مۍ په میاشت کې څو ورځې پرانیستل شوه[3] که څه هم په لومړیو کې د ننګرهار ولایت چارواکو له پاکستان څخه د راستنېدونکو کډوالو لپاره په تورخم ښارګوټي کې د قرنطین مرکز پرانست، خو د ادارو ترمنځ د نه همغږۍ په پایله کې ولیدل شول چې په یو ځل په لس ګونه زره کډوال له پاکستان څخه هېواد ته راستانه او په پوله د قرنطین کېدو پلانونه یې له منځه یوړل.

د کرونا وایروس چې اوس د هېواد ټولو ۳۴ ولایتونو ته انتقال شوی، او د نورو ولایتونو په نسبت کابل، هرات، کندهار او بلخ ولایتونو کې زیات کسان په یاد وایروس اخته شوي دي[4]

Center for Strategic and Regional Studies

---

[1] https://www.who.int/dg/speeches/detail/who-director-general-s-opening-remarks-at-the-media-briefing-on-covid-19---11-march-2020

[2] https://www.iom.int/news/large-scale-covid-19-infections-feared-afghanistan-iom-scales-response

[3] https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/daily_brief_covid-19_31_may_2020.pdf

[4] https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-covid-19-multi-sectoral-response-operational-situation-report-6-may

ښايي په تيزۍ سره د خپرېدلو لوی لامل يې دا وي چې عام خلک دا ناروغي جدي نه نيسي او يا په فزيکي او ټولنيزه توګه واټن نه مراعتوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۲ کال را پديخوا په کور دننه د جګړو او نورو طبيعي آفتونو له امله بې ځايه شوي خلک چې شمېر يې شاوخوا ۴,۱ ميليون ته رسيږي په غير معياري هستوګنځايونو کې اوسيږي[5] او فزيکي واټن مراعتول ورته ناشوني وي، په زندانونو کې د فزيکي واټن نه مراعتول او همدارنګه په مسجدونو او عبادت ځايونو کې د خلکو په پراخه کچه راغونډېدل، په مارکيټونو او بازارونو کې د خلکو ګڼه ګوڼه نور هغه لاملونه کېدلی شي چې د کرونا وايروس خپرېدو سره يې مرسته کړې وي.

تر دې مهاله له ۱۵[6] زرو څخه زيات کسان په کرونا وايروس اخته شوي او له بده مرغه ۲۵۷ تنه هېوادوال د دې ناروغۍ له امله په حق رسيدلي چې عمرونه يې د ۴۴ او ۶۹ کلونو ترمنځ وو[7] او په وژل شويو کې ۱۲ تنه روغتيايي کارکوونکي شامل هم دي.

| | Age 0-19 | | Age 20-29 | | Age 30-39 | | Age 40-49 | | Age 50-59 | | Age 60-69 | | Age 70-79 | | Age 80+ | | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Girls | Boys | Women | Men | Women | Men | Women | Men | Women | Men | Women | Men | Women | Men | Women | Men | |
| # people confirmed with COVID-19 | 352 | 437 | 917 | 2244 | 558 | 2306 | 465 | 1541 | 369 | 992 | 205 | 584 | 73 | 166 | 23 | 83 | 15205 |
| # deaths from COVID-19 | 2 | 2 | 2 | 3 | 6 | 19 | 6 | 37 | 8 | 31 | 9 | 41 | 4 | 20 | 4 | 19 | 257 |

سرچينه: د روغتيا نړيوال سازمان ۳۱ مې

د رسنيو استازو او عامو خلکو په افغان حکومت له هماغه لومړي وخت څخه غږ کاوه تر څو له ايران څخه د راستنېدونکو افغانانو لپاره يو منظم پلان جوړ کړي، ترڅو ښارونو او کليو ته له راستنېدو وړاندې هغوی په ځانګړو کمپونو کې قرنطين او لازمه درملنه يې ترسره شي. خو حکومت په دې کار

Center for Strategic and Regional Studies

[5] https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/covid_sitrep1_final.pdf
[6] https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-flash-update-covid-19-daily-brief-no-49-31-may-2020
[7] https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-covid-19-multi-sectoral-response-operational-situation-report-6-may

کې پاتې راغی او همدا لامل شو چې په هېواد کې په کرونا وايروس د اخته کسانو شمېر په تيزی سره زيات شي.

## کمزوری روغتيايي او اقتصادي وضعيت

د ۲۰۰۱ ل کال راپدېخوا د نورو برخو په څېر د روغتيا وزارت که څه هم يو څه غوړېدلی ښکاري، خو بيا هم په ډېرو ولايتونو کې حتی د لومړنيو روغتيايي خدماتو وړاندې کولو په برخه کې خلک له پراخو ستونزو سره مخ دي. د بېلګې په توګه د روغتيايي خدماتو په برخه کې د کارکوونکو کموالی، او همدا راز د وسائلو، ساختمانونو او زيربناوو کمښت.

تر دې مهاله د ټول هېواد په سطحه د کرونا وايروس معاينه کولو لپاره اته لبارټرۍ شتون لري چې هر يو يې په ورځ کې د ۱۰۰ څخه تر ۱۵۰ ټيسټونو ظرفيت او وړتيا لري. او حکومت په پام کې لري چې د لیبارټریو شمېر ۱۵ ته ورسوي[8]

بلخوا د نړيوال بانک راپور له مخې په ۲۰۲۰ ل کال کې اقتصادي وده ښايي د کرونا وايروس له امله تر (4-) سلنه را ښکته شي، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۹ ل کال کې 2.9 سلنه وه[9] په هېواد کې د کرونا وايروس له امله هغه توليدي ځايونه بند شوي او يا يې کارونه کم شوي دي چې تر يوې کمې کچې يې داخلي تقاضا لپاره بسنه کوله. په صادراتو کې په لويه کچه کموالی راغلی او واردات هم د پخوا په نسبت اوس په لوړه بيه تماميږي. په همدې خاطر په داخلي مارکيټ کې د ۱۴ مارچ څخه تر ۱۸ مۍ پورې د وړو، حبوباتو، بورې، غوړيو او وريجو په بيو کې په ترتيب سره د ۱۹، ۱۳، ۸، ۲۱ او ۶ سلنه زياتوالی راغلی دی[10]

Center for Strategic and Regional Studies

---

[8] https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/covid_sitrep1_final.pdf
[9] https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview
[10] https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-covid-19-multi-sectoral-response-operational-situation-report-6-may

په افغانستان کې زیات خلک په خدماتي سکتورونو کې په دندو بوخت وي کوم چې د قرنطین له امله په پراخه کچه زیانمن شوي دي. او تولیدي سکتور په هغه حالت کې نه دی چې د بې وزلۍ کمولو په برخه کې دې ډېر اغېزمن واقع شي. د کرونا وایروس له امله د خصوصي سکتور اغېزمن کېدو سره د حکومت عوایدو کې هم په پراخه کچه کموالی راغلی دی.

افغانستان کې د ۵۰ سلنې زیات وګړي د بې وزلۍ کرښې لاندې ژوند تېروي، د کرونا او قرنطین د دوام په صورت کې دا کچه ښایي تر ۷۰ سلنې لوړه شي. په دې توګه عام وګړي ښایي د کرونا وایروس پراخېدو له امله د ډېر بحراني حالت سره مخامخ شي.

په تعلیمي او تحصیلي برخه کې هم د کرونا وایروس له امله شاوخوا ۷ میلیون زده کوونکي د زده کړو څخه لرې پاتې شوي، په داسې حال کې چې ۳,۷ میلیون زده کوونکي د کرونا وایروس نه وړاندې د ځینو نورو ستونزو له امله بې زده کړو پاتې شوي وو. د زده کړو پرمخ بېولو لپاره که څه هم د معارف او د لوړو زده کړو وزارتونو په یو شمېر تګلارو پلي کولو کار ونه پیل کړل، تر څو زده کوونکي و کولی شي په کور پاتې کېدو په صورت کې هم بې زده کړو پاتې نه شي. خو د عامو افغانانو غیر معیاري هستوګنه، تلویزون او راډیو ته نه لاسرسی، د برېښنا نه شتون، او د غیر حضوري زده کړو سره نابلدتیا تر څنګ په ځینو سیمو کې د انټرنټ نه فعالیت، هغه ستونزې دي چې د غیر حضوري او آنلاین زده کړو مخه یې هم په دې توګه ډب کړې ده.

ولږه، بې وزلي، د روغتیایي کدرونو کموالی، او د وقایوي تدابیرو نه عملي کول نورې هغه ستونزې دي، چې د کرونا وایروس خپرېدو او زیاتېدو سره یې نیغ په نیغه مرسته کړې ده.

## ولسي غبرګون

د کرونا په وړاندې د حکومتي غبرګون تر څنګ؛ په هېواد کې د قدر وړ ولسي غبرګونونه هم تر سترګو کېږي چې ټول د ستاینې وړ دي او اړینه ده چې د هغوی په پراخه کچه حمایت تر سره شي. په دې لړ کې

Center for Strategic and Regional Studies

تر ټولو وړاندې او منظم غبرګون د (Nafcovid19) یا د کرونا سره د مبارزې ملي اتحاد را مینځ ته کېدل وو[11]

دغه اتحاد چې د مختلفو تخصصي او ټولنیزو سازمانونو په همکارۍ را مینځ ته شوی؛ وکولی شول چې د دولتي ادارو سره د همغږۍ له لارې، کرونا سره د مبارزې په برخه کې اړین ګامونه پورته کړي. د دې اتحاد لومړنی کار د کرونا وایروس په برخه کې د عامه پوهاوي په اړه په ټول هېواد کې د نړیوال روغتیايي سازمان (WHO) او عامې روغتیا وزارت له لوري چمتو شویو بروشرونو وېشل وو. همدا راز، د دې اتحاد له خوا د عامه پوهاوي په برخه کې د مساجدو لپاره په لوی شمېر کې ځانګړې شوي پوسترې جوړې او وویشل شوې.

دا چې د کرونا وایروس له امله په عامو خلکو کې یو ډول وېره او د رواني حالت کمزوري رامنځ ته شوې وه، نو یاد اتحاد د لنډ کتاب یا Booklet "د رواني مرستې لارښود" تر عنوان لاندې راوویست، چې علمي حقایق او معلومات پکې ځای پر ځای شوي وو. د کرونا سره د تعامل فقه، د کورونو ضد عفوني کول، په دغسې حالاتو کې د مړي د تدفین او تکفین لارښود هم د دې اتحاد له لوري وړاندې شو. د ټولنیزو صفحو له لارې په عامه ژبه یې دیني او علمي معلومات له خلکو سره شریک کړل. د عامه پوهاوي لپاره د "خطیب او طبیب" په نوم پروګرام له مخې د دې اتحاد اړوند روغتیايي کار کوونکي مساجدو ته ولاړل او د خلکو پاملرنه یې د دې وایروس مخنیوي او حفاظتي لارو چارو ته راګرځوله.

د روحي ملاتړ لپاره دې اتحاد د ایما په ملاتړ د "ای سرباز مه وېرېږه!" پروګرام پیل کړ، چې د ایما کار کوونکي په روغتونونو وګرځېدل او روغتیايي کارکوونکي یې تقدیر کړل.

[11] https://csrskabul.com/?p=6547

Center for Strategic and Regional Studies

د عاجلو مرستو په برخه کې یاد اتحاد وکولی شول چې د احساس خیریه بنسټ له لارې په ټول هېواد کې ترلسو زرو زیاتو کورنیو ته خوراکي توکي او حفاظتي سامان ورسوي.

په دغسې بې ثباته حالت کې د کرونا وایروس خپرېدو مخنیوي لپاره یاد اتحاد د یوې ملي پراخې جبهې د جوړېدو په خاطر د سیاسي مشرانو سره هم ناستې ترسره کړې. ترڅو د طالبانو په ګډون ټولې خواوې کرونا وایروس د هېواد لپاره د یو ناورین په توګه وپېژني او د دې ناورین سره د اغېزناکې مقابلې له پاره تیاری ونیسي.

په یو وروستي اقدام کې د کرونا سره د مبارزې ملي اتحاد ډاکټرانو د روغتیا وزارت سره په همغږۍ په دې وتوانېدل ترڅو د افغان جاپان د روغتون چارې هم په غاړه واخلي او په خپلو نوښتونو سره د دې روغتون د خدماتو کچه په کمي او کیفي لحاظ پورته کړي.

## نړیوالې مرستې او کرونا وایروس

د کرونا وایروس سره د مبارزې په برخه کې نړیوالو مرستو کې یو څه ستونزې شته، خو د دې سره، سره ځینې نړیوال ډونران بیا هم افغانستان سره د مرستو ترسره کولو لپاره چمتووالی لري، ولې افغان حکومت د مرستو ترلاسه کولو او لګولو په سطحه کې د مدیریت کمزوري لري چې باید جدي پاملرنه ورته وکوي.

هغه مرستې چې د نړیوالو ډونرانو له خوا افغانستان سره د کرونا وایروس په برخه کې ترسره کېږي، هغه په خپل وخت د حکومت په واک کې نه ورکول کېږي. بل دا چې د یادو مرستو مصرف لپاره نړیوالو ډونرانو ځایونه ځانګړي کړي دي، چې دا بیا د دې څرګندویي کوي چې له یوې خوا نړیوال ډونران لا هم د روغتیا په برخه کې مرستو ته چمتوالی لري مګر د پخوا په څېر نه غواړي خپلې مرستې په بې غورۍ ترسره کړي او د مرستو مصرف په برخه کې د شفافیت غوښتونکي دي.

Center for Strategic and Regional Studies

افغان حکومت د کرونا وایروس مخنیوي لپاره ۱۵ میلیونه ډالر ځانګړي کړل، چې ۳ میلیونه ډالر یې ولایتونه ته ولېږل او شاوخوا ۸ میلیونه ډالر یې د وسائلو خریدارۍ لپاره بهرنیو هېوادونو ته واستول. اړینه وه چې یاد وسائل په خپل وخت رانیول شوي وو، ځکه د وایروس خپرېدو سره په نړیوال مارکیټ کې له یوې مخې د روغتیایي وسائلو د رانیولو تقاضا ډېره شوې او له بل پلوه یې په بیو کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.[12]

له دې پرته هغه مرستې چې نړیوالو ادارو لکه نړیوال بانک، د آسیا پرمختیایي بانک، اروپایي اتحادیې او نورو له افغانستان سره اعلان کړې، هغه مرستې یې په نغدي بڼه افغان حکومت ته و نه سپارلې. عام ولس داسې انګېرله چې ګواکې ټولې مرستې د کرونا وایروس په برخه کې او هم په نغدي شکل ترسره شوي او یا کېږي. د بېلګې په توګه نړیوال بانک ۱۰۰ میلیونه او څلور لکه ډالر له افغانستان سره مرسته د څلورو کلونو لپاره اعلان کړه[13] د مرستو اعلان په اړه ناسمو معلوماتو د عام ولس او حکومت ترمنځ د بې باورۍ فضاء رامنځ ته کولو ته لاره هواره کړه. په داسې حال کې چې د بېلګې په توګه د نړیوال بانک اعلان شوې مرستې یوه برخه د کرونا وایروس سره د مبارزې په برخه کې او پاتې هغه یې د روغتیایي سیستم پرمختګ او غښتلي کولو لپاره په اوږدمهال کې ترسره کېدونکي دي.

د آسیا پرمختیایي بانک ټولې مرستې چې شاوخوا 40 میلیونه ډالر کېږي یوازې ۱۵ میلیونه یې د کرونا سره د مبارزې په برخه کې او پاتې هغه یې د روغتیایي وسائلو رانیولو په برخه کې په مصرف رسیږي.

Center for Strategic and Regional Studies

---

[12] https://csrskabul.com/?p=6547

[13] https://www.worldbank.org/en/news/press-release/2020/04/02/world-bank-fast-tracks-100-million-covid-19-support-for-afghanistan

# پالیسي سپارښتنې

کرونا وایروس یو ستر نړیوال وباء دی چې د نورو بې وزله هېوادونو په څېر به زمونږ د خلکو په اقتصادي او ټولنیز ژوند هم ژورې اغېزې ولري. دا چې څرنګه مونږ کولای شو د کرونا په وجه د یو لوی ناورین مخه ونیسو نو د هر افغان ملي او دیني دنده ده، خو افغان حکومت د دې تاریخي مبارزې په اوله کرښه کې پروت دی. دا چې حکومت په څه ډول کولای شي د کرونا په وجه د ټولنیز ناورین کچه تر ممکنې درجې ښکته کړي، نو ډېر څه کول ورته په کار دي. لاندې سپارښتنې هم د همدې مسؤلیت د لا ښه ترسره کولو په موخه، حکومت کې دننه او بهر، پالیسي جوړونکو په وړاندې اېښودل کېږي.

نورو سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو اړخونو ته هم پکار دي، ترڅو بې تفاوته پاتې نه شي او د کوویډ ۱۹ سره د مبارزې د ملي اتحاد په شان، حکومت سره په همغږۍ، په دې بحراني حالاتو کې خپلو خلکو سره د مرستې لپاره د خدمت میدان ته را ودانګي.

## اداري او بودجوي برخو کې سپارښتنې

- تر دې وروسته روغتیایي سکتور ته دې ځانګړې پاملرنه ترسره شي او په کلنۍ ملي بودیجه کې دې ورته تر ۵ سلنو سهم زیات کړای شي.
- جمهور رئیس ، سیاسي او ټولنیز مشران دې د روغتیا وزارت او اړوند ادارو پیغامونه او سپارښتنې له عام ولس سره شریکې کړي ترڅو په روغتیایي ادارو د عام ولس باور زیات شي. د روغتیایي کارکوونکو څخه دې ځانګړې مننې ترسره او په ښه توګه دې تقدیر شي.
- حکومت ته پکار دي ترڅو په دغسې یو نازک او بحراني حالت کې د بهرنیو مرستو د ترلاسه کولو ظرفیتونه لوړ کړي، او د ټولو خواوو سره په همغږۍ، کرونا سره د مؤثرې مبارزې په لارو

Center for Strategic and Regional Studies

چارو غور وکوي. سیاسي ناندرۍ یوې خوا ته پرېږدي او د سولې نه وروسته، کرونا سره د مبارزې کار ته تر هرڅه لومړیتوب ورکړي.

- د بهرنیو او نړیوالو ډونرانو مرستو لپاره د مالیې وزارت تر چتر لاندې یوه ځانګړې اداره رامنځ ته شي، ترڅو په حساب ورکولو او شفافیت وړاندې کولو سره د هغوی ډاډ ترلاسه شي.
- په ملي بودیجه کې باید هغه وخت تعدیلات رامنځ ته شي کوم وخت چې عاجلو مرستو ته اړتیا ولیدل شي. له دې پرته اوږدمهاله مرستو لپاره باید د نړیوالې ټولنې او مرستندویه ادارو همکاري راجلب شي.
- اړینه ده ترڅو افغان حکومت د کرونا وایروس سره د مبارزې په برخه کې لګښتونه له وړاندې اټکل کړي ترڅو د نازکو حالاتو په وخت کې د مرستو د ځنډ او خنډ ستونزو مخه ونیول شوي او اړوند اړخونو سره په خپل وخت مرستې ترسره شي.
- د حکومت او نړیوالو مرستو مصرف په برخه کې باید ولسي جرګه د حکومت سم نظارت ترسره کړي، رسنۍ د څېړنیز ژورنالیزم له لارې او عام خلک د فساد هغه پېښې په ګوته کړي چې د مرستو په برخه کې د فساد ښکار کېږي.
- حکومت دې، د وارداتو او صادراتو په برخه کې په خپلو شته پالیسو له سره غور وکړي. په ځانګړي ډول له ګاونډي هېواد پاکستان سره د اپټا( APTA ) په تړون، چې اوس په دغسې بحراني حالت کې یوازې له یاد هېواد څخه واردات ترسره کېږي او صادراتو مخه نیول شوې ده. د ټولو هېوادونو سره په بېړنیو حالاتو کې هم د افغانستان د صادراتو په اړه ځانګړې پالیسۍ باندې کار ترسره شي. دا ځکه چې په هېواد کې د تازه میوو وخت مخ په را رسېدو دی، کوم چې د ډېرو خلکو لپاره د نفقې باعث ګرځي، که صادرات په همدې بڼه په ټپه ودرېږي نو

Center for Strategic and Regional Studies

راتلونکې ژمی به هېوادوال له ډېرو ستونزو سره مخ شي نو دولت باید د هغوی حاصلاتو ته د بازار موندنې ترڅنګ د صادراتو لارې پرانستلو لپاره لاس پکار شي.

- که د کرونا وایروس خپرېدو کچه نوره هم وغځېږي، دولت باید د معاشونو په برخه کې یو لنډ مهالی تعادل رامنځ ته کړي، او ټولو دولتي کار کوونکو ته تر یوې اړینې کچې معاشونه ورکړل شي او د لوړو معاشونو ورکړې مخه دې ونیول شي.
- اړینه ده ترڅو افغان حکومت خصوصي ادارو سره مرسته وکوي ترڅو بېړنیو حالاتو ته د چمتوالي او کارکوونکو مالي ملاتړ لپاره په راتلونکې کې لږ تر لږه د درې میاشتو مودې لپاره بودیجې خوندي کولو باندې کار ترسره کړي.
- د هېواد کمزوري اقتصادي وضعیت او د بې وزلۍ کچې پراخېدو ته په کتو د قرنطین د کچې د نرمولو په صورت کې دې خلک وهڅول شي ترڅو ټول اړین حفاظتي تدابیر رعایت کړي. او حکومت باید د فزیکي واټن مراعتولو لپاره په ټولو غیر ضروري غونډو روان بندیز ته ادامه ورکړي.
- په دولتي ادارو کې د مراجعینو لپاره نوي لازم تدابیر ونیول شي. او هغه ادارې د بېلګې په توګه د الکترونیکي تذکرو اداره چې د کمو امکاناتو په لرلو سره بیا هم په لویه کچه مراجعین لري، په یادو ادارو کې د فزیکي واټن مراعاتولو لپاره ځانګړي او په اغېزناکه توګه تدابیر ونیول شي.
- هغه خوراکي او لومړني توکي چې تولید یې د هېواد په داخل کې ترسره کېدونکی وي، حکومت باید د هغو توکو بازار ته په رسولو کې له اړوند تولید کوونکو سره مرسته وکوي ترڅو پر وخت بازار ته ورسیږي او د بیو زیاتوالي مخه ونیول شي.

Center for Strategic and Regional Studies

- اړينه ده ترڅو د اقتصاد ، روغتيا، زراعت او د تجارت او صنعت وزارتونه اقتصادي او روغتيايي تدابيرو لپاره له وړاندې تابيا ونيسي او شته ستونزو ته د اقتصادي روغتيايي اړخ څخه پاملرنه ترسره شي.
- د ايران او پاکستان په ګډون له بهرنيو هېوادونو څخه د راستنېدونکو افغانانو لپاره يو منظم ميکانيزم دې رامنځ ته شي او په بهرنيو هېوادونوکې د مېشتو افغانانو؛ په تېره بيا د افغان محصلينو ستونزو ته د بهرنيو چارو وزارت له لارې ځانګړې پاملرنه وشي.
- افغان حکومت بايد د حقايقو په رڼا کې معلومات وړاندې کړي او له هغو معلوماتو ورکولو ډډه وکوي چې ولس بې باوره کوي او په ټوله کې دې د باور جوړونې لپاره زيات کار ترسره شي.
- د حکومت له لوري د مالي ملاتړ زياتولو سره د خصوصي سکتور څخه دولتي سکتور ته د ضرورت وړ روغتيايي کدرونو په لېږدولو کې دې اړين ګامونه واخيستل شي.
- کرونا وايروس چې د ډېرو ادارو کمزورې نقطې يې رابرسېره کړي، افغان حکومت بايد د يو فرصت په توګه خپلې کمزورې نقطې په نښه او د اصلاح په موخه يې کارونه پيل کړي.

## روغتيايي برخه کې سپارښتنې

- هغه اړمن وګړي او په ځانګړې توګه روغتيايي کارکوونکي چې د کرونا وايروس له امله يې خپل ژوند بايللی، د هغوی کورنيو او ورثه وو سره بايد دوامداره مرستې ترسره شي.
- دا چې د شکرې او زړه بيماريو ناروغان چې په لويه کچه د کرونا وايروس له امله ډېر په خطر کې دي؛ د هغوی د ساتنې او ژغورنې لپاره بايد لازم تدابير ونيول شي. د هغوی په اړه دې پوره معلومات راټول شي ترڅو د اړتيا پر وخت ورسره لازمې روغتيايي مرستې ترسره شي.

Center for Strategic and Regional Studies

- په روغتونونو کې دې عاجلې خونې مجهزې او د اکسیجن او تنفسي سیستم په برخه کې دې امکانات زیات شي. همدارنګه روغتیایي کار کوونکو ته باید PPE یا Personal Protective Equipment یعنې د ځان ساتنې توکي برابر کړل شي، ترڅو د هغوی ژوند ژغورنې سره مرسته ترسره شي.
- اړینه ده ترڅو حکومت د اړونده امنیتي ادارو په مرسته د روغتیایي کار کوونکو ځانګړې ساتنه او حمایت وکړي ترڅو روغتیایي کارکوونکي په ډاډ سره وکولی شي خپلې دندې پرمخ یوسي او له هرډول ګواښونو څخه په امن کې شي.
- د روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړونې لپاره دې لنډ مهالي، منځ مهالي او اوږد مهالي ګامونه واخیستل شی او په دې برخه کې د نړیوالو ماهرینو له لارې په آنلاین بڼه ورکشاپونه او سیمینارونه په لاره واچول شي ترڅو اړوند کارکوونکي په دې برخه کې عاجلې زده کړې ترلاسه کړی شي.
- د (Real Time) یو داسې سیستم رامنځ ته کول چې د روغتیا وزارت سره مرسته ترسره کړي، چې د هېواد په کچه د مختلفو بیماریو کچه، مړینه او پېښې ثبت او راتلونکې لپاره وړاندوینې ترسره کړي.
- د کرونا وایروس په برخه کې د ترسره شویو مرستو له مخې چې کوم روغتیایي مرکزونه جوړیږي، اړینه ده چې هغه اوږد مهاله ګټې اخیستنې ته په کتو جوړ او ګټې اخیستنې ته چمتو شي.
- د راتلونکي په خاطر؛ افغان حکومت مختلفو هېوادونو ته د سکالرشپونو او تعلیمي بورسونو له لارې استوونکو محصلینو څخه یو شمېر د وایروس پېژندنې برخې ته ځانګړې کړي او هغوی د ځانګړې پاملرنې له مخې وروزي.

Center for Strategic and Regional Studies

- د روغتیا په برخه کې د معلوماتو ورکولو یوه ځانګړې دولتي او همدارنګه غیر دولتي مرجع دې رامنځ ته شي، ترڅو شخصي تجربې په علمي توګه تجزیه او تحلیل کړي او خلکو ته د باوري او دقیقو معلوماتو په وړاندې کولو کې مرسته وکوي.
- د هېواد په ټولو سرحدي پولو کې د کرونا وایروس تشخیص لپاره د سیمې هېوادونو او روغتیا نړیوال سازمان په مرسته د مرکزونو جوړول، ترڅو هېواد ته راستنېدونکي کسان پر وخت معاینه شي او د کرونا وایروس ترڅنګ په راتلونکې کې د هر ډول بېماریو انتقال مخه پرې ونیول شي.
- ټول هغه درمل او وسائل چې د کرونا وایروس سره د مبارزې لپاره اړین دي، باید د یو منظم پلان له مخې حالاتو ته په کتو د هغوی اټکل ترسره شي، ترڅو د اړتیا پر وخت یې نه شتون د لازیاتو ستونزو لامل نه شي.

## ټولنیزې سپارښتنې

- دولت دې د کرونا وایروس د پوره کنټرول کېدو پورې د ښوونځیو او پوهنتونو د بیا پرانستلو په اړه تصمیم و ځنډوي. تر هغو دې د غیر حضوري او مجازي زده کړو په برخه کې په ظرفیت جوړونې کار ترسره شي، او په دې برخه کې د شته ځنډونو د له منځه وړولو کوښښ دې وشي. په دې اړه تفصیلي سپارښتنې، جلا تحقیقي پاڼې ته ضرورت لري.
- اړینه ده ترڅو رسنۍ د ټولنې د څلورم رکن په حیث کرونا سره د مبارزې د عامه پوهاوي دنده د یو ملي مسولیت په حیث بې له کومې مادي بدلې مخ ته یوسي او پرېږدي چې دې کار ته ځانګړې شوې بودجه؛ نورو اړینو برخو کې په مصرف ورسیږي.

- عام خلک دې د اړوند روغتیایي ادارو سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکوي او ټولنیز مسؤلیت ته په کتو دې هم ځان له کورونا وساتي او هم دې په ناپوهۍ سره نورو ته د ناروغۍ لېږدولو سبب نه ګرځي.
- د کرونا سره د اغېزناکې مبارزې په موخه، په ټول هېواد کې د رضاکارۍ فرهنګ باید رواج کړای شي. د کووید ۱۹ سره د مبارزې ملي اتحاد جرړې لا باید مضبوطې کړای شي او د حکومت له خوا په بېړنیو حالاتو کې د رضاکارانه کار ترسره کولو لپاره یو انلاین سیستم رامنځ ته شي، ترڅو د عام ولس پر مټ پیښو ته پر وخت رسېدنه ترسره شي.

Center for Strategic and Regional Studies